CAAELP
Connecticut Alternate Assessment of English Language Proficiency

# د CAAELP د کورنۍ لارښود



## د انګلیسي ژبې د مهارت د کنیکتیکټ بدیله ارزونه څه ده؟



د انګلیسي ژبې د مهارت د کنیکتیکټ بدیله ارزونه (CAAELP) د انګلیسي ژبې په لوستلو، لیکلو، خبرې کولو، اوریدلو، او پوهیدو کې ستاسو د ماشوم مهارت اندازه کوي. مهارت د نظریو، پوهې، او مالوماتو د انتقال لپاره د انګلیسي ژبې د کارولو له ورتیا څخه عبارت ده. دا ارزونه [د انګلیسي ژبې د مهارت د بدیلو معیارونو پر بنسټ ولاړه ده]، کوم چې هغو ژبنیو ورتیاوو باندې د تمرکز کولو لپاره ډیزاین شوي دي چې زده کوونکي ورته په ښوونځي او هغه څخه هاخوا بریالیتوب کې اړتیا لري.

## د انګلیسي ژبې د مهارت (ELP) بدیل معیارونه څه دي؟

د 10 ELP بدیل معیارونه تعریفوي چې د ټولګي په ټاکلو کچو کې باید زده کوونکي د انګلیسي ژبې کوم مهارتونه ولري. هغوی په جلا توګه ژبې او محتویاتو ته د نژدې کیدو په بدلون باندې ټینګار کوي او د ژبې د هغو مهارتونو په اندازه کولو باندې تمرکز کوي چې ستاسو ماشوم ورته د زده کړې عمومي نصاب ته د بشپړ لاسرسي لپاره اړتیا لري. دا معیارونه به دواړه انګلیسي د دویمې ژبې په توګه (ESL) او د محتویاتو-ساحې ښوونکو پواسطه وکارول شي ترڅو ستاسو ماشوم د انګلیسي ژبې په هنرونو، ریاضیاتو، او ساینس کې بریالیتوب لپاره چمتو کړي.

## زما ماشوم به کله CAAELP ونیسي؟



CAAELP ازموینه هر کال اخستل کیږي. CAAELP لپاره د کنیکټیکټ په ایالت کې د تعلیمي حوزو لپاره د 2024-2025 کال د ازموینې کړکۍ له 13 جنوري - 7 مارچ، 2025 دی.

## د والدینو اضافي سرچینې:

- د کنیکټیکټ د بدیلي ارزونې سیستم د والدینو عمومي کتنه
- د کنیکټیکټ د بدیلي ارزونې سیستم په شرایطو باندې برابروالي فورمې په اړه متداولې پوښتنې او ځوابونه
- د کنیکټیکټ د بدیلي ارزونې سیستم په اړه متداولې پوښتنې او ځوابونه
- د Els والدینو او کورنۍ لپاره مالومات
- کورنیو او ښوونکو لپاره سرچینې

## لا ډیرو مالوماتو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ

د CSDE فعالیت دفتر
بریښنالیک: ctstudentassessment@ct.gov
نوم: کیټي سیفیرټ
بریښنالیک: Katherine.Seifert@ct.gov
نوم: ډیرډري ډچارم
بریښنالیک: Deirdre.Ducharme@ct.gov

د 2022 کال © د Iowa د پوهنې له ډیپارټمنټ څخه اقتباس شوی دی

## څوک د CAAELP ازموینه ورکوي؟



کوم زده کوونکي چې د انګلیسي ژبې د زده کوونکو/څو ژبو زده کوونکو (ELs/MLs) په توګه پیژندل شوي وي* او کوم زده کوونکي چې څرګند ادراکي معلولیت ولري لکه څرنګه چې د پلان جوړونې او ځای پر ځای کولو ټیم (PPT) لخوا د کنیکټیکټ د بدیلې ارزونې په شرایطو باندې برابروالي فورمې د بشپړولو له لارې مشخص شوې وي د CAAELP ازموینې ورکولو په شرایطو باندې برابر دي. CAAELP هغه پرمختګ اندازه کوي چې ستاسو ماشوم یې د انګلیسي ژبې د مهارت په ترلاسه کولو کوي.

*د "انګلیسي ژبې زده کوونکي" د فدرال تعریف کارول*

## زما ماشوم سره د مرستې لپاره CAAELP څنګه کارول کیږي؟

د CAAELP اصلي موخه د ژبې مناسبو چوپړتیاوو ته د زده کوونکو وړ کول او د زده کوونکو د اړتیاوو د غوره ملاتړ لپاره ښوونځیو ته په لارښوونې کې مرسته کول دي. پداسې حال کې چې CAAELP د لیسې په فراغت کې نه شمیرل کیږي، دا مشخص کوي چې آیا ستاسو زده کونکی هغه اضافي مرسته چې هغه ورته د بشپړ ګډون کولو او ښوونځي کې بریالیتوب لپاره اړتیا لري، ترلاسه کوي.

## زه څنګه کولای شم خپل ماشوم سره مرسته وکړم ترڅو چمتو شي؟



تاسو د خپل ماشوم په زده کړې کې یو مهم شریک یاست. ځینې موضوعات چې تاسو یې ترسره کولای شئ ترڅو CAAELP ته ستاسو د ماشوم په چمتو کولو کې مرسته وکړي په لاندې ډول دي:

- ✓ د CAAELP تمرین ازموینو ته د لاسرسي د څرنګوالي په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره چې ستاسو ماشوم سره د مرستې لپاره په پام کې نیول شوي دي ترڅو د ازموینې له پوښتنو سره بلد شي، [د CAAELP سرچینو (cambiumast.com)](cambiumast.com) څخه لیدنه وکړئ.
- ✓ خپل ماشوم ته وواياست چې د تمرین ازموینې به شتون ولري ترڅو هغوی وکولای شي چې د ازموینې له پلیټ فارم او تنظیماتو سره بلد شي.
- ✓ خپل ماشوم ته تشریح کړئ چې دا ازموینې هغه ابزارونه دي چې هغوی سره په زده کړې کې مرسته کوي، او باید اندېښمن نه اوسي او ویره ونلري.

## زه به د خپل ماشوم د CAAELP نمرې څنګه پیدا کړم؟

ستاسو ښوونځی به ستاسو د ماشوم د فعالیت راپور په CAAELP کې تاسو ته چمتو کړي. دا به هغه وخت پیښ شي کله چې د پسرلي په وروستیو کې نمرې د CSDE لخوا نهایي شي.

## **CAAELP** له پخوانیو ارزونو څخه څه توپیر لري؟

CAAELP یوه کمپیوټري ازموینه ده چې په ځانګړې توګه هغو ELs/MLs لپاره چې څرګند ادراکي معلولیتونه لري، ډیزاین شوې ده. پدې کې نوښتي پوښتنې چې ټولګی او د ریښتوني نړۍ سناریو ګانې منعکس کوي، شاملیږي. د CAAAELP د یو توکي د بېلګې لپاره لاندې موارد وګورئ.

د نمونې توکی

**2-3 ټولګي: اوریدل: ټاکل شوی ځواب**

جملې ته غوږ ونیسئ. بیا پوښتنې ته ځواب ورکړئ.

زما خوښیږي چې بهر ولاړ شم او په خپل مخ باندې تود لمر احساس کړم. کوم انځور بهر کې شتون څرګندوي؟




## کله چې زما ماشوم نور EL/ML نه وي، څه پیښیږي؟

ستاسو ماشوم به نور د CAAELP ازموینه ورنکړي. هغوی به د انګلیسي ژبې تخصصي/د څو ژبني تدریس چوپړتیاوې ترلاسه کول ودروي مګر ښایي د یو څه اضافي ملاتړ ترلاسه کولو ته ادامه ورکړي او د دوه کلونو لپاره به وڅارل شي.

Alt ELPA په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره، وګورئ